د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**گڼه: 493**

(06 - 10 میزان 1404 هـ ش)

## متحده ایالاتو ته د بگرام هوایي اډې سپارل؛ ننګونې او پایلې یې

---



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

# په دې ګڼه کې لولئ:


- متحده ایالاتو ته د بګرام هوايي اډې سپارل؛ ننګونې او پایلې يې ........................................ 3
- د ټرمپ د مذکراتو ډول او د فشار ډیپلوماسي ........................................................... 4
- ټرمپ د دې اډې له ترلاسه کولو څه موخه لري؟ ......................................................... 5
- د ټرمپ د دې څرګندونو پر وړاندې غبرګونونه ........................................................... 6
- متحده ایالاتو ته د بګرام هوايي اډې د سپارلو ګټې ...................................................... 6
- متحده ایالاتو ته د بګرام هوايي اډې د سپارلو زیانونه .................................................... 7
- پایله ................................................................................................ 8
- مأخذونه ............................................................................................ 8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## متحده ایالاتو ته د بگرام هوایي اډې سپارل؛ ننګونې او پایلې یې

### سریزه

د بګرام هوايي اډه په ۱۹۵۰ز. کال کې د شوروي اتحاد له لوري جوړه شوې ده، چې په لومړیو کې د کوچنیو الوتکو لپاره یوازې عادي لاره (رن وې) وه چې بیا وروسته پرې سترې پوځي اډې بدله شوه. له دغې اډې شوروي اتحاد د شوروي–افغان جګړې پر مهال د یوې ستراتیژیکې وسیلې په توګه کار خیسته، له همدې اډې یې عملیات تنظیمول او د افغانستان هوایي حریم یې ترې کنټرولوو. د شوروي اتحاد په مقابل کې د افغان مجاهدینو له لوري څو ځلې دغه اډه تر برید لاندې راغلې وه. کله چې شوروي ځواکونو په ۱۹۸۹ز. کال کې په افغانستان کې ماتې وخوړه او له دغه هېواد څخه وشړل شول، نو د کورنۍ جګړې پر مهال دا اډه د بېلابېلو ډلو ترمنځ لاس په لاس کېده، چې له همدې امله د دې اډې زېربناء په خرابېدو شوه. کله چې په ۲۰۰۱ز. کال کې متحده ایالاتو پر افغانستان برید وکړ او دغه هېواد یې اشغال کړ، نو د بګرام پوځي اډې کنټرول یې هم په لاس کې واخیسته، متحده ایالاتو دغه اډه د نظامي عملیاتو په مرکز بدله کړه. په دغه اډه یې لا پراخه کړه، نوې ودانۍ یې په کې جوړې کړې، د الوتکو د الوتلو لارې (رن وې) یې ترمیم او ډېرې کړې، د استوګنې ځایونه او پراخ تاسیسات یې په کې جوړ کړل، چې له امله یې دغې اډې د یو بشپړ ښار حیثیت خپل کړ، لس زرو څخه زیات عسکر په کې مېشته شول، روغتونونه، پلورنځي او ان هوټلونه په کې جوړ شول.[1] همدارنګه بګرام د امریکایي وحشت پر مرکز هم بدل شو، دوی دلته هغه خلک په ناقانونه ډول پرته له محکمې بندیان کړي وو چې یا د دوی په مقابل کې جنګېدل او یا هم پرې د دوی خلاف د مبارزې تور و.

بګرام هوايي اډه امریکایانو ته له دوه اړخه ستراتیژیک اهمیت لري، لومړی، دغه اډه د اشغال پرمهال د امریکایانو د عملیاتو بنسټیز مرکز و، له همدې ځایه یې په سیمه او افغانستان داخل کې جنګي ماموریتونه پرمخ وړل، دغه اډه اوس هم په سیمه کې د امریکایي سیالاتو د نفوذ د کنټرول او استخباراتي معلوماتو د راټولولو بنسټیز مرکز کېدلای شي. دویم، بګرام اډه د خپل پراخوالي له امله امریکایانو ته ستراتیژیک اهمیت لري، امریکایان خپل ټول لوجیستیک وسایل، پوځي وسلې، سترې الوتکې او پوځیان دلته په اسانۍ ځای پرځای کولای شي او همدارنګه د نظامي تمریناتو لپاره هم دغه اډه بسنه کوي.

په دې وروستیو کې د ټرمپ له لوري د ګواښ په ډول وویل شول چې اسلامي امارت دې دغه اډه موږ ته راکړي او که دا کار ونکړي، نو له ډېر بد حالت سره به مخامخ شي[2]، پوښتنه دا ده چې ټرمپ د دغې اډې له ترلاسه کولو څه موخه لري؟ که اسلامي امارت دغه اډه متحده ایالاتو ته ورکړي، نو کومې ګټې او زیانونه به ولري؟ د همدغو پوښتنو د ځواب په موخه دغه تحلیل لیکل شوی دی.

## د ټرمپ د مذکراتو ډول او د فشار ډیپلوماسي

ډونالډ ټرمپ د مذاکراتو د ترسره کولو په برخه کې په ښکاره څرګندونو، د ډېر فشار واردولو، زور کارونې او بې پروایې له امله شهرت لري، نوموړی د مذاکراتو ځانګړی ډول لري چې دلته پرې لنډ ډول بحث کوو:

**۱ .د سترو او توقع خلاف غوښتنو سره د مذاکراتو پیلول**

ټرمپ تل مذاکرات د داسې غوښتنو پر بنسټ پیلوي چې هغه د توقع خلاف او ناممکنې برېښي چې دې ته (The “Door in the Face” Technique) هم ویل کېږي[3] لکه: له هېوادونو غوارې چې له متحده ایالاتو سره پر لاسلیک شویو سوداګریزو تړونونو له سره بیا مذاکرات وکړي، کاناډا دې د متحده ایالاتو ۵۱م ایالت شي، ګرینلینډ او پاناما د متحده ایالاتو دي او د متحده ایالاتو ګټې که خوندي نشي، نو برید به پرې وکړي. د دې سترو غوښتنو په مقابل کې هېوادونه د ډار احساس کوي، وارخطا کېږي او د ټرمپ اصلي غوښتنو ته چې د مطرح شویو غوښتنو څخه په ټیټه کچه دي اماده کېږي.

**۲ .ګټه یا تاوان**

ټرمپ تل د مذاکراتو له لارې یا ټوله ګټه لاسته راوړي او یا زیان، نوموړی منځنې حد ته قایل نه دی او د همدې هدف لپاره خپل ټول ټیم رهبري کوي، تر څو ده له دریځ ملاتړ وکړي یا یو څه لاسته راوړي او یا یې په بشپړ ډول وبایلي.

**۳ . د وخت فشار واردول**

د ټرمپ د مذاکراتو بله ځانګړنه دا ده چې هغه د وخت فشار واردوي، په مصنوعي ډول بېړنی حالت جوړوي او هېوادونو ته داسې څرګندوی چې د دې معاملې لپاره وخت ډېر کم دی او باید عجله وکړي، هېوادونه د وخت د کمبود له وارخطایې سره مخامخ کوي او هغوی اړ کوي چې ژر اقدام وکړي او د دغه ژر اقدام په لومه کې ټرمپ خپلې خبرې پرې مني.

**۴ . داسې چلند کول چې مقابل لوری فکر وکړي چې دی هر شی کولای شي**

ټرمپ ډېر کله داسې چلند کوي چې د اټکل وړ نه وي او خلک فکر کوي چې دا کار یې لیونتوب دی، د دغه نه اټکل کېدونکی چلند له لارې نوموړی غواړي چې په مقابل لوري فشار راوړي او داسې فکر وکړي چې دی چې څه وایي هغه هوایي نه دي او پر دې سړي باور په کار نه دی، دی هر شی کولای شي او د دغه ډول چلند له لارې مقابل اړخ اړ کېږي چې تعامل وکړي او ځینې شرایط یې ومني.

**۵ . د ټولنیزو رسنیو څخه د فشار په توګه ګټه اخیستل**

ټرمپ خپله ناخوښي، غصه، زور او یا هم اخطار د ټولنیزو رسنیو له لارې خپروي، تر څو په مقابل اړخ فشار راوړي او په مذاکراتو کې یې خپلو شرایطو ته راښکته کړي.[4]

## ټرمپ د دې اډې له ترلاسه کولو څه موخه لري؟

۱- متحده ایالات غواړي پر بین المللي نظام همداسې واکمن وي او پر نړۍ یې باداري همداسې دوام ولري، متحده ایالاتو په تېرو څو کالونو کې دا درک کړې ده چې چین او روسیه د دې نظام په مقابل کې ګواښ دي، له همدې امله یې غوښتل چې روسیه په اوکراین او چین په تایوان کې له جنګي اړخه مصروفه کړي تر څو د دوی اقتصادي پرمختګ ټکنی شي او له متحده ایالاتو سره له سیالۍ وغورځېږي، خو چین په دې برخه کې له احتیاط څخه کار واخیسته، ورپسې متحده ایالاتو هڅه وکړه چې په انډوپسفیک کې د چین ګټې وګواښي، له استرالیا سره یې د اکوس تړون لاسلیک کړ، د هند، استرالیا او جاپان سره یې د کواډ اتحاد رامنځته کړ او هڅه یې وکړه چې به مالاکا تنګي کې هم د چین سوداګرۍ په مقابل کې خنډونه پیداکړي، خو په دې برخه کې لا بریالی نه دی، نو اوس متحده ایالات غواړي چې چین ته نږدې په څو کیلومتري کې د چین په اړه استخباراتي معلومات راټول کړي، په سیمه کې د چین د نفوذ مخه ونیسي او د اړتیا پرمهال د هغوی په مقابل کې ځینې پټ عملیات وکړي او د دې کارونو د ترسره کولو لپاره بګرام اډه د امریکایاتو لپاره ښه فرصت دی او له همدې امله یې د ترلاسه کولو غوښتنه کوي.

۲- دا چې متحده ایالات په افغانستان کې پوځي حضور نه لري، نو د بګرام هوایي اډې د ترلاسه کولو څخه یې موخه دا ده تر څو ځان ډاډمن کړي چې د افغانستان خاوره کې د القاعدې او یا د امریکا ضد نورو ډلو پټنځایونه نشته او د سپتمبر یوولسمې په څېر د کوم عملیات لپاره تیاری نه دی روان، همدارنګه متحده ایالات غواړي چې په سیمه کې هم د خپلو متحدینو د دفاع په موخه ځینې عملیات وکړي په ځانګړي ډول پاکستان هغه هیواد دی چې له تاریخي اړخه د امریکایي پروژو تطبیق کوونکی پاتې شوی او راتلونکې کې هم پاکستان د متحده ایالاتو لپاره ځینې پروژې تطبیقولای شي چې پاکستان یې کېدای شي په بدل کې د ټي ټي پي د کنټرول او له منځه وړلو غوښتنه وکړي او متحده ایالات د بګرام هوایي اډې له لارې دا کار کولای شي.

۳- همدارنګه پر ایران، روسیې او مرکزي اسیا د څار لپاره او ځینو هېوادونو په ځانګړي ډول په ایران کې د پټو او ځانګړو عملیاتو لپاره هم دغه اډه مهمه ده.

۴- په ۲۰۲۱ز. کال کې امریکایان په ډېر ناکام ډول له افغانستان څخه وشړل شول او په ټوله نړۍ کې یې حیثیت ته صدمه ورسېده او ټرمپ خپله هم پر بایډن همدا نیوکه کوله چې دوی ناکام ماموریت ترسره کړ او ستره فاجعه یې رامنځته کړه، نو ټرمپ غواړي چې د بګرام اډې په ترلاسه کولو سره دغه ناکامۍ پټه کړي او



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

نړۍ ته وښايي چې زموږ وتل تکتيک و او دا دې اوس مو خوښه شوه بېرته افغاستان ته لاړو تر څو په نړۍ کې خپل حيثيت بېرته اعاده کړي.

۵- همدارنګه د بګرام اډې له ترلاسه کولو کېدای شي بله موخه دا وي چې دوی خپل لوجستيکي وسايل او پرېښودل شوې وسلې بېرته ترلاسه او يا هم له منځه يوسي.

## د ټرمپ د دې څرګندونو پر وړاندې غبرګونونه

اسلامي امارت د افغانستان ځمکنۍ بشپړتيا او حاکميت ته د ژمنتيا په نظر کې نيولو سره دغه غوښتنه رد کړې او په جدي ډول يې د بګرام هوايي اډې له سپارلو سره مخالفت کړی دی.[5]

چين ويلي چې د امريکا د بګرام ته د بېرته راتګ په اړه پرېکړه يوازې د افغانستان او د دې هېواد د خلکو حق دی او د افغانستان ځمکنۍ بشپړتيا او ملي حاکميت ته بايد احترام وشي او طبعي ده چې چين په افغانستان کې د امريکايانو نظامي حضور سره مخالف دی.

روسيې اسلامي امارت په رسميت پېژندلی او نږدې اړيکې يې ورسره ټينګې کړي دي او د چين او روسيې دغو نږدې اړيکو ستر لامل دا دی چې اسلامي امارت يو ځل بيا د متحده ايالات غبږ ته ونه غورځېږي او بايد په ملاتړ يې وکړو، نو روسيه به هم هيڅکله دې ته حاضره نشي چې په افغانستان کې د امريکايانو پوځي حضور ومني او رضايت ورسره وښايي.

## متحده ایالاتو ته د بګرام هوايي اډې د سپارلو ګټې

متحده ايالاتو ته د بګرام هوايي اډې د سپارلو ځينې ګټې په لاندې ډول دي:

**۱-** مادي ګټه، کېدلای شي چې د دغې اډې په مقابل کې متحده ايالات د مياشتې او يا هم په کلني ډول اسلامي امارت ته پېسې ورکړي.

۲- د اسلامي امارت په رسميت پېژندل، که اسلامي امارت د بګرام هوايي اډې د سپارلو او نه سپارلو په اړه مذاکراتو ته ښکته شو، نو طبعي ده چې د دې اډې په بدل کې به اسلامي امارت د رسميت پېژندنې غوښتنه کوي او امکان شته چې امريکايان دغه غوښتنه ومني.

۳- بله ګټه يې دا ده چې د اسلامي امارت نړيوالې اړيکې به پراختيا ومومي، ځکه متحده ايالات د دې وړتيا لري چې امريکايي، اروپايي، افريقايي او ځينې اسيايي هېوادونه دې ته قانع کړي چې اسلامي امارت په


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

رسميت وپېژني او اړيکې ورسره ټينګې کړي او دغه اړيکې د افغانستان په اقتصادي او سياسي وضعيت مثبته اغېزه کوي.

## متحده ايالاتو ته د بګرام هوايي اډې د سپارلو زيانونه

١- په دغو زيانونو کې تر ټولو مهم زيان دا دی چې د اسلامي امارت تېر شل کلنه مبارزه به د سوال لاندې راشي، ځکه اسلامي امارت شل کاله په دې دليل جهاد وکړ چې افغانستان اشغال دی او تر څو چې يو امريکايي پوځي په افغانستان کې وي جهاد به روان وي او که اوس اسلامي امارت خپله د امريکايانو پوځي حضور ته زمينه برابروي، نو طبعي ده چې شل کلنه مبارزه به د سوال لاندې راشي.

٢- که بګرام هوايي اډه امريکايانو ته ورکول کېږي، نو کېدای شي دا پرېکړه ځينو عامو مجاهدينو او مشرانو ته د منلو وړ نه وي او دا به د دې لامل شي چې په اسلامي امارت کې خپلمنځي اختلافات رامنځته شي.

٣- د ناامنيو زياتېدل، په بګرام کې د امريکايي پوځيانو نظامي حضور په دې معنی ده چې ځينو مخالفو وسله والو ډلو ته يوه بله بهانه په لاس ورکول تر څو خلک جهاد ته راوبولي او د امريکا نظامي حضور يو ځل بيا ځوان نسل ته اشغال معرفي کړي او خپلو صفونو ته د جهاد په نوم ځوانان جذب کړي او يو ځل بيا په بګرام هوايي اډه بريدونه پيل شي او د اسلامي امارت په مقابل کې هم بريدونه پيل شي چې دا به يو ځل بيا افغانستا ناامنه کړي.

۴- د سيمې له هيوادونو سره د اړيکو خرابېدل، په افغانستان کې د امريکايانو بياځلي نظامي حضور سره روسيه، چين او ايران مخالف دي او همدا لامل دی چې د امريکايانو له وتلو وروسته له دغو هېوادونو سره د اسلامي امارت اړيکې ښې شوې، نو که امريکايان يو ځل بيا نظامي حضور پيداکوي، نو له دغو هېوادونو سره د اسلامي امارت د اړيکو د خرابېدو امکان ډېر دی.

۵- په هغو هېوادونو کې چې امريکايان اډې لري د همدغو اډو له لارې هغوی پر حکومتونو نفوذ لري او په هغه هېواد کې ټولې چارې د همدغې اډې څخه کنټرولوي او هر هغه حکومت يې چې د ملي ګټو خلاف وي د هغې د کمزوري کولو ټولې لارې چارې له همدې اډې مديريت کوي، نو که امريکايان بګرام ته راشي، نو د حکومت مخالفو ډلو سره به اړيکې ټينګوي، ولسي مخور خلک به د حکومت خلاف تمويلي او تشويقوي او د حکومت په داخل کې به د فساد لپاره زمينې برابروي او له دې لارې به حکومت کمزوری کوي او بيا به پرې خپلې خبرې مني.

٦- د حقوقي ستونزو رامنځته کېدل، که امريکايان د افغانستان په داخل کې نظامي حضور پيداکوي، نو د دې حضور مبنی به طبعي ده چې يو تړون وي، نو که له دې تړون څخه سرغړونه کېږي دې ته به څوک رسيده

ګي کوي، ځکه امریکایان د تړونونو په ماتولو کې تاریخي مخینه لري، نو که د تړون له موادو امریکایان سرغړونه کوي، نو له دې قدرتمند هېواد سره به شخړه په کومه محکمه په مخکې وړې سربېره پر دې چې بین المللي سازمانونه او محکمې د همدوی تر نفوذ لاندې دي او که د محکمې لاره نه تعقیببږي، نو بیا اسلامي امارت اړ دی چې جګړه وکړي او دا به یو ځل بیا د متحده ایالاتو او افغانستان جګړې ته لاره پرانېزي چې د ټولو بدبختیو لامل دی.

## پایله

بګرام هوايي اډه د ستراتیژیک اهمیت څخه برخمنه ده. متحده ایالات کولای شي چې د دې اډې له لارې په سیمه کې خپل سیالان تر څار لاندې ونیسي او د اړتیا پرمهال له دې اډې پټ عملیات ترسره کړي. متحده ایالاتو ته د دې اډه ورکړه له یوې خوا مادي ګټه لري او له بل پلوه د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې او نړیوال اړیکو د پراختیا لپاره مهمه ده، خو د دې ګټو په پرتله د اډې ورکړه ستر زیانونه هم لري، لکه: د اسلامي امارت د خپملنځي اختلافاتو ډېربدل، د افغانستان د مرکزي حکومت کمزوري کېدل، د اسلامي امارت د مخالفینو تقویه کېدل او د نویو پروژو ترلاسه کول او په ځانګړې ډول د دې اډې په ورکړې سره به د اسلامي امارت اړیکې له چین، روسیې او ایران سره خرابې شي او دغې خرابې اړیکې به د دې لامل شي چې افغانستان یو ځل بیا د لویو قدرتونو د سیالۍ ډګر شي چې په هیڅ ډول د افغانستان په خیر نه ده. همدارنګه اسلامي امارت په ښکاره ډول امریکایانو ته د دې اډې سپارل رد کړي دي او دا یو ډېر معقول او ښه دریځ دی ځکه ټول افغانان د اشغال خلاف دي او دا پریکړه د ملي ګټو او اسلامي مصالحو په چوکاټ یوه ښه پریکړه ده او تمه ده چې اسلامي امارت پر همدې دریځ ودرېږي، البته له دې قضیې سره باید ډېر حکیمانه برخورد وکړي او متحده ایالاتو سره د تعامل او مذاکراتو له لارې دغه قضیه حل کړي.

## مأخذونه

[1] Hannah Corken. "Bagram Air Base: History, Significance, And Current Status", Grimsby Live, Sep 21, 2025, Access link
[2] Karishma Jain. "Trump Wants Bagram Air Base Back: Why The US Is Demanding It And Why Kabul Says No", News 18, September 22, 2025, Access link
[3] Jeremy Nicholson M.S.W. "The Psychology Behind Donald Trump's Negotiating Strategy", psychology today, March 14, 2025, Access link
[4] Philip Brown. "Learning from Trump's Tactics in 2025" the negotiation clubs, 2025, Access link

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

5 Associated Press. “The Taliban reject Trump’s bid to retake Bagram Air Base in Afghanistan”, September 21, 2025, Access link

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000 +93780618000